# د رحمان بابا د شاعرۍ فکري سرچینه او د حافظ شیرازي شاعري

**A Study of the fundamental source of Rehman Baba's poetry and the poetry of Hafiz sheerzai**

عبدالرحمٰن کاکړ*

**Abstract:**

This article traces the divergences between the poetries of two great poets of Pashto and Persian classic literature; Rehman Baba and Hafiz Sherazi. Because some of the writers, particularly pashtoon writers opine that Rehman Baba, the most popular poet of Pashto literature has been influenced by the thoughts and imagination of Hafiz Sherazi; on the basis of which few research papers and books have also been published. The said studies lack the divergences found in the poetries of both prodigious poets. Considering the prominence of the theme, the writer strive to unpack the very basic differences found in the poetries of the said poets. On the basis of 250 years period gap between the two poets, it is assumed that although great intellectuals inspire the upcoming generations yet it needs to be investigated further. It is also evident that a portion of common thoughts is found in the poetry of all poets: particularly when a poet himself confesses the influence of another poet, like Hafiz Sherazi had acknowledged Salman and Khwajo but no such confession is found in the poetry of Rehman Baba. It is worth to mention that this paper is not a comparative study of the poetry of Hafiz Sherazi and Rehman baba, consequently; setting standards for both poets will not be part of the conclusion of this paper.

فارسي او پښتو دواړې ژبې اوږده تاریخي سابقه لري او سیمه په سیمه دي، خو فارسي پخوا پر لویه سیمه د وخت د سرکار له خوا هر وخت پالل شوې ده. په پېړیو پېړیو د بېلا بیلو توکمونو د باچهانو له خوا په دربارونو کښې وئیل کېده، ټول سرکاري او اولسي دفتري کارونه به په فارسي کښې تر سره کېدل. له دې سوبه ډېره غني شوې،خوږ والی او نرمي یې هم خاصه ګرځېدلې.

یوه ژبه چې دا ډول ځانګړتیاوې او واك او اختیار ولري، نو د اولس دپاره یې زده کړه نهٔ یواځې اړین بلکې د برمتوب نخښه ګرځي. په ورو ورو د سیمه ایزو ژبو لغات خپلوي او خپل لغات خوروي.په دې عمل سیمه ایزې ژبې خپل توري له لاسه ورکوي او د قامي یا لویو نړیوالو ژبو اثر خپلوي چې په نتیجه کښې له توري سره تړلی تاریخ، کلتور او تهذیب له مینځه ځي او د نوو تورو په خپلولو سره د بل تاریخ، تهذیب او کلتور په غیر شعوري توګه خپلوي.

په دې تناظر کښې که ورته وګورو، پښتو د غرنۍ سیمې ژبه پاته شوې. د دربار یا دفتر ژبه ګرځول خو لرې خبره ده، د بازار ژبه لاهم کمه پاته شوې ده. پردیو بهٔ څنګه نازوله چې خپل توکمه: د ځینو پرته،

---

* Lecturer; Department. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

نورو ټولو شتمنو، د لويو نومونو خاوندانو، واکمانو او باچهانو د دې سره مرسته نۀ کول، ورته په سپك نظر کتل دي.

پښتانۀ که په تاريخي توګه هر څو توريالي، جنګيالي او ننګيالي پاته شوي، خو تورې وهل يې پښتو ژبې ته ګټه نۀ ده رسولې.پښتو که ژوندۍ ده يا د نورو ژبو سياله ګرځول شوې ده، هغه د بايزيد انصاري، مرزا خان انصاري، خوشحال خان خټك، رحمان بابا، حميد مومند، کاظم خان شيدا، پيرمحمد کاکړ، علامه عبدالحی حبيبي په ډول خواخوږو له برکته ده.

لوی شمېرنامتوڅېړونکي په دې عقيده دي چې رحمان بابا په پښتنو کښې تر ټولو زيات پېژندل شوی او د پښتنو د خوښې شاعر دی. د اولس له خوا ډېر په درنه سترګه ورته کتل شوي او تر ننه يې په دغه برم کښې هېڅ توپير نۀ دی راغلی.

همدغه ډول حافظ شيرازي د ايراني هيواد والو خوښ او منل شوی شاعر ګڼل کيږي. خوږه ژبه، ژور فکر او تېزه مشاهده يې د شخصيت ځانګړنې دي. شاعري يې په اولس کښې نۀ شلېدونکي ولګې (جرړې) لري. د تهذيبي شتمنۍ لويه سابقه لرونکي هيواد (ايران) له خوا دغيب اللسان او بلبل شيراز په لقبونو نازول شوی. د مذهبي او روحاني لاربښود په حېث يې له ديوان څخه فال کتل کيږي. ديوان يې په نړيواله سويه په بېلا بېلو ژبو کښې ژباړل شوی دی.

پۀ دې مقاله کښې دا په ګوته کول دي، چې د حافظ شيرازي او رحمان بابا په افکارو،نظرياتو، شاعرانه انداز او بيان کښې څومره ورته والی شته؟ دا پوښتنه څېړونکو هغه وخت پورته کړې چې د حافظ په شاعرۍ کښې راوړل شوي مضامين، تراکيب، قافيه، رديف يا په هغه بحرونو کښې ليکل شويو غزلو ته په يو يا بل ډول ورته ځنې غزلي د رحمان بابا له شاعرۍ سره پرتله کړې.

د رحمان بابا پر شاعرۍ د حافظ د شاعرۍ اثرات څېړلو مخکښې بايد ووايو چې په دې حقله مير احمد شاه رضواني، نامتو څېړونکي دوست محمد خان کامل، محترم پروفېسر داور خان داود صاحب، پروفېسر جميل يوسفزي صاحب او نورو زيار ايستلی دی. دوست محمد کامل مومند مرحوم د حافظ او د رحمان بابا هغه اشعار سره پرتله کړي دي، کوم چې په يوه يا بله بڼه سره ورته دي. دغه ډول پروفېسر داورخان داود صاحب د حافظ او رحمان بابا د اشعارو وړه غوندې تقابلي جائزه اخيتسې ده.پروفېسر جميل يوسفزي صاحب پر رحمان بابا د حافظ د شاعرۍ اثرات په کتابي بڼه کښې په ګوته کړي.

د رحمان بابا او حافظ دواړو يو بل سره ورته اشعارڅېړونکو وړاندې کړي او ژور بحثونه يې باندې کړي، ځکه زۀ يې هغه اړخ ته ستا سو پام راګرځوم کوم ته چې څېړونکو اشاره نۀ ده کړې يعنې د رحمان بابا د شاعرۍ هغه لوی اړخونه چې د حافظ شيرازي دشاعرۍ سره په پرتله کولو يې توپير يا بيلتون واضح کيږي. دې کښې تر ټولو لومړی ژبې ته پاملرنه کوو:

ژبه: رحمان بابا چې په شاعري کښې کومه ژبه کارولې هغه ډېره ساده، اسانه، خوږه، پسته، روانه، له نامانوسو او مکروه لغاتو څخه پاکه ده. د حافظ شیرازي د کلام ژبه هم ساده، خوږه او خوندور کلمات لري لیکن د رحمان بابا په پرتله د حافظ شیرازي شعر فلسفیانه بڼه لري چې ځای په ځای د لوستوخلقو له ذهني سویې څخه لوړه ده. ځکه خو اورنګ زېب د دۀ پر دیوان وئیلو بندېز لګولی ؤ او خپله به یې هر وخت د حافظ د دیوان مطالعه کوله. بلکې که دا ووایم چې د دۀ په کلام کښې کوم علامتونه کارول شوي هغه باندې د تصوف سره اړه لرونکو پرته لږ خلق پوهیږي،ناسمه به نۀ وي.

"عکس روئے تو چو در آئینہ جام افتاد :: عارف از پرتوِ مے در طمع خام افتاد[1]

ژباړه: ستا د مخ عکس د جام پر ښیښه لګېدو سره عارف د شرابو د عکس څخه طمع پیدا شوه، یعني کله چې د زړۀ پر هېنداره ستا د ښائست شغلې وشوې نو عارف د شراب عرفان د عکس څخه د دې خواهشمند شو.

خو د رحمان بابا په شاعري کښې د ګرانو لغاتو څخه په شعوري توګه ډډه شوې. د بېلګې په ډول یې یو شعر دلته راوړو:

ژوندی ځان په مځکه ښخ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاورو په مقام شه"(2)

یعنی د رحمان بابا د شاعرۍ ژبه باندې نۀ زیات اولسي رنګ خور دی او نۀ ډېره فلسفیانه ده،د اولس پوهان،لوستي او نالوستي ټول په ښه توګه خپله مدعا یا مطلب ځنې اخستلی شي چې د رحمان بابا د شاعرانه عظمت روڼ دلیل دی.

له دې سره سره، د ژبې دغه امتیاز د رحمان بابا د ژوند یو پټ ور هم پرانستی، او مونږ ته په ګوته کوي چې رحمان بابا ټول ژوند په پښتون اولس کښې تېر کړیٔ، په دې سوب یې ژبه سوچه، ساده او سپېڅلې ده.

د حافظ د شاعرۍ ژبه هم پر دې دلالت کوي چې په کلتوري او تهذیبي شتمنۍ کښې ژوند کړی او د اولس له لوړې یا لوستې ټولۍ سره یې نږدې اړیکې پاته شوي دي.

دویم د دوئ په شاعري کښې تنقیدي معیار ته ګورو چې د کوم معیار تنقید په کښې شوئ دی، کوم شاعر د ټولنې د اصلاح، د اولس او انسانیت درد، خواخوږي او انسان دوستي او ظلم مخ نیوي دپاره څۀ فکر درلودی او په کوم انداز یې تنقید باندې کړی دی؟.

**معیار تنقید**: د ادب او شاعرۍ تر ټولو لوړ مرام د ټولنې د اصلاح دپاره په ټولنه کښې د ناوړه کارونو، رویو، ناروا او ناحقه تیري غندنه کول دي چې مینه، ورورګلوي خوره شي او په ټولنه کښې

سکون راشي. خو کله چې ادب ناجوړه شي، ټولنه هم ورسره ناجوړه کیږي او د ښهٔ او بد توپیر له مینځه ځي، پائیله یې ګډوډي او بدامني وي. لکه نن چې مونږ ورسره مخ یو.

د رحمان بابا له شاعرۍ ځرګنده ده چې پر شاه او ګدا یې یو ډول نقدونه کړي. که هغه اورنګ زېب وي، که د ګل خان او جمال خان قیصه وي، یا بل څهٔ وي،په جګه غاړه یې تنقید باندې کړی. یو ځای یې د اورنګ زېب د باچاهۍ نیولو مخکې او وروسته ژوند باندې داسې طنز کړی:

اورنګ زېب هم یو فقیر ؤ
چې ټوپۍ یې وه په سر"(3)
و ټوپۍ و ته یې شا کړه
چې قادر شه په افسر"(4)
ګوره څهٔ چارې یې وکړې
پهٔ عیال د خپل پدر"(5)

اورنګ زیب هغه باچا ؤ چې خپل وروڼه یې تر تېغ لاندې کړو، ډېر نازولي یې د باچاهۍ نیولو دپاره زهیر کړو یا یې تر دنیا تېر کړو. د پښتنو ستر سالار،شاعر او دانشور خوشحال خان خټک سره زیاتی، هغه په بند کښې اچول، اشرف خان هجري او د خوشحال له اولاد سره ظلم د هیچا څخه پټ نهٔ دی خو رحمان بابا بیا هم سپینه خبره کړې. د دهٔ ناسم، ناوړه کار او ظلم و زیاتی یې په کلکه غندلی دی. ملنګ رحمان بابا یې نهٔ د مال او دولت طمع کړې او نهٔ یې په زړهٔ کښې ویره احساس کړې چې د رحمان بابا شخصیت ډېر لوړوي.

دغه ډول د جمال سره د پېښې په حقله وایي:

چې له آل له اولاده سره وسول
خدای دې نهٔ کا څوك دا هسې مظلومان"(6)

چې انسان کا هسې ظلم په انسان
د نمرود چارې مې ولیدې په سترګو"(7)

له دې خپله سپیه نفسه مې زړهٔ بد شهٔ
چې اوبهٔ څښي یا خوارهٔ خوري په جهان"(8)

سربندونه ګویا دشت کربلا وو
چې سېلاب شهٔ د سرو وینو پرې روان(9)

هسې نۀ چې دايې وکړو نور به نۀ کړي
چې يې زړۀ شي هغه کاندي بادشاهان(10)
شاه عالم اعظم وګوره چې يې سخا کړو
پۀ خونونو واړه ملك د هندوستان"(11)

د حافظ شيرازي په شاعرۍ کښې د رحمان بابا په پرتله تنقيد لږ په نظر راځي.که تنقيد شته نو د ملا، زاهد او صوفي يا د ټولنې پر نورو خوارانو باندې ګذارونه شته. له دې پرته يې په ديوان کښې مدحيه قصائد هم شته خو د رحمان بابا په ديوان کښې چې کامل صاحب يا ډاکټر زېور حسرت صاحب د قصيدې کومه اشاره کړې هغه اخلاقي قصيدې دي، مدحيه قصيدې د نښت برابر دي. هغه هم د تنقيد بنيادي تقاضا ده چې ښېګړې او نيمګړتياوې دواړه په بايد په ګوته شي. ولي حافظ شيرازي دخپل وخت له دربارونو ته تګ راتګ کولی او وظيفې يې تر لاسه کړې. باچاهان او د ملکانو تعريفونه يې کړي. "ان کے زمانہ میں شیراز کے جو جو فرماں روا گزرے، سب کی مدح میں ان کے قصائد موجود ہیں اور اسی شان کے ہیں جو عام مدح گویوں کا انداز ہے. شاہ شجاع کی مدح میں نوینہ قصیدہ ہے جس میں لکھتے ہیں.:

دارای دہر، شاہ شجاع، آفتاب ملک :: خاقانِ کامگار و شہنشاہِ نوجوا"(12)

ژباړه: د دۀ په وخت کښې شيراز کښې چې څومره حاکمان تېرشوي، د ټولو په مدح کښې د دۀ قصيدې شته او طرز يې داسې دی لکه عام مدح کوونکي چې ليکلي وي. شاه شجاح په مدح کښې يوه قصيده ليکلې چې وايي: شاه شجاع د وخت دارا ختلی لمر، کامګار او ځوان شهنشاه دی.
رحمان بابا دربار سره تعلق خو لرې خبره ده بلکې د وخت له واکدارانو په خپله هم لرې ګرځي او نورو ته هم په خښم وايي چې د زورور ياري هيڅ هنر نۀ دی:

چې هنر ګڼي ياري د زورورو
بول و کړم زۀ رحمان په دا هنر"(13)

د بل څخه يې د هر څۀ طمع پرې کړې وه، خصوصاً د مال او دولت غوښتنه يې کله هم له چا نۀ ده کړې او نۀ له چا خوا بده شوې چې اوږده هجويه اشعار به يې پسې وئيل. د استغنا پر لوړه څوکۍ يې ځان له خوښه کړې. د دنيا يا مال او دولت طلب ګاران چې د دين په جامه کښې فقر کوي، په کلکه يې غندلي:

د دنيا په طلب ګرځي
خپل ځان بولي قلندر"(14)

رحمان بابا د ټولنې د هر کسب والا په نظر کښې نیولی ؤ. د ناوړه، ناروا او ظلم غندنه یې په واز کومې کړې. مثلاً د هغه واعظ غندنه یې هم کړې چې منافقانه رویه لري، ناانصافي او ظلم کوي:

په شپه وینې د مظلوم خورې
سبا کښېني په منبر"(15)

رحمان بابا او حافظ شیرازي د عقیدې له لوري دواړه سني مسلکه مسلمانان دي. د زمحشری پر تفسیر کشاف حاشیه لیکلو له وجې پر حافظ شیرازی د معتزله الزام لګېدلی، خو د حافظ د کلام څخه د معتزله عقائدو په تائید کښې څۀ معلومات زما تر نظر نۀ دي تېر شوي او د لسان الغیب لیکوال هم دا الزام رد کوي :

"چونکہ خواجہ حافظ تفسیر کشاف کے بہت دلدادہ تھے. اس بنا پر اکثر لوگوں نے آپ کو معتزلہ بتایا ہے. تفسیر کشاف کا مصنف مولوی زمحشری بے شک معتزلہ تھا مگر اس سے یہ ثابت نہیں ہوتا کہ خواجہ حافظ بھی اس فرقہ میں تھے.... خواجہ صاحب کے کلام پر ایک نظر کرنے سے معلوم ہو جائے گا کہ خواجہ صاحب باوجود تفسیر کشاف پر حاشیہ لکھنے اور اس کے قدردان ہونے کے معتزلہ نہ تھے"(16).

ژباړه: حافظ پر تفسیر کشاف ډېر مئین ؤ ځکه به زیاتره خلقو دۀ ته معتزله وئیل. د تفسیر کشاف لیکونکی بې شکه معتزلي ؤ خو له دې څخه دا نۀ ثابتیږي چې خواجه حافظؒ هم له دې ډلي څخه ؤ.... د خواجه صاحب له کلام وئیلو مونږ ته اندازه کیږي چې دی پر تفسیر کشاف حاشیه او قدر کولو سره سره معتزلي نۀ ؤ.

د لسان الغیب د دې ټکي پر اساس چې حافظ د معتزله عقائدو قدردان ؤ، د حافظ او رحمان بابا په عقیده کښې د ژور بېلتون سبب ګرځي. ولي رحمان بابا حنفي مسلکه عقائد لري. د عقیدې دا بېلتون د نوموړو شاعرانو پر شاعري زیات اثر غورځوي. د ادب په حقله که هر څومره دا خبره کیږي چې تر هر څۀ لوړ دی او حدود نۀ لري، دهیڅ مذهب او عقیدې پابند نۀ دی خو د عقیدې پر بیلا بیلو ډولونو اظهار د شرقي شاعرۍ خاصه ده، په غربي نړۍ کښې هم داسې ډېر ادیبان په نظر راځي چې نۀ یوازې د خپل مذهب او عقیدې خورونه یې په خپلو لیکنو کښې کړې بلکې و نورو نړیوالو مذهبونو ته یې په سپکه سترګه کتلي.

د دې عقیدوي توپیر پرته، د اسلامي شعراوو په شاعرۍ کښې د جبر او قدر عقیده هم راوړل شوې چې د رحمان بابا او حافظ شیرازي په شاعرۍ کښې هم ډېر اشعار تر دې موضوع لاندې وئیل شوي. لومړی په جبر او قدر سر خلاصوو:

**جبر او قدر**: جبر او قدر د اسلامي تصوف او علم الکلام دوې عقيدې دي چې په لنډو ټکو کښې داسې وئيلی شو چې جبريه عقائد لرونکي صوفياء دا يقين او عقيده لري چې د انسان په تقدير کښې څۀ ليکلي وي، دهغه بدلون هيڅ امکان نۀ لري. ځکه انسان چې څۀ کوي هغه د دۀ په تقدير کښي ليکلي دي او د الله پاك د ارادې پرته يوه زره له ځايه نۀ شي ښوربدلی. د دې په ضد کښې قدريه عقيده لرونکي وايي چې انسان په خپلو کارونو کښې ازاد دی، هر څۀ چې غواړي هغه کولی شي. په دې دی د خپلو ښو او بدو اعمالو ذمه واره دی.

. د حافظ شاعري کښې مونږ ته ډېر داسې اشعار په نظر راځي چې د دۀ د جبريه عقائدو په زړۀ پورې ښېلګې دي:

"مرا مهرِ سيهِ چشماں زدل بيروں نخواهد شد
قضائے آسمان ست اين و ديگرگوں نخواهد شد"(17)

ژباړه: د دې تورو سترګو ښائسته وو مينه زما له زړۀ نۀ وزي، دا په تقدير کښې ليك ده چې بدلول يې امکان نۀ لري.

"مرا روز ازل کارے بجز رندی نفر مودند
هر آں قسمت که آنجا شد کم و افزوں نخواهد شد"(18)

ژباړه: ماته د ازل له وزې څخه د رندۍ پرته بل کار نۀ دی سپارل شوئ، دا وخت چې څۀ هم زما په تقدير کښې ليکل شوي دي، په دې کښې زياتي او کمی نۀ شي کيدلای، هوبهو هغه کيږي څۀ چې په تقدير کښې نوشته شوي.

بل ځای وايي:

"در کوئے نيک نامی مارا گزر ندادند
گر تو نمی پسندی تغيير کن قضا را"(19)

ژباړه: د نېکنامۍ په کوڅه کښې ما ته د تللو موقع نۀ د راکړل شوې، که زما ادا دې خوښه نۀ وي نو بيا خو ته قادر مطلق يې، زما قسمت بدل کړه، ولې زۀ چې څۀ کوم زما په اختيار کښې نۀ دي.

"حافظ بخود نپوشيد ايں خرقهء مے آلود
اے شيخِ پاک دامن معذور دار مارا"(20)

ژباړه: په شرابو لړلې دا ګودړۍ حافظ خپله نۀ ده اغوستې بلکه له ازل څخه ورپه برخه ده. اې د ښۀ کردار خاوند شېخه په دې معامله کښې زۀ معذوره يم او د الله پاك د حكم تر مخ هېڅ نۀ شم کولی:

"در خرابات مغاں ما نیز ہم منزل شویم
کایں چنیں رفت ست درعہد ِ ازل تقدیرِما"(21)

ژباړه: له پیر مغاں په شراب خانه کښې مونږ ورسره اوسېږو، زمونږ له دۀ سره دغه استوګه د ازل له ورځې ده.

خو د رحمان بابا په شاعري کښې مونږ ته د دواړو امتزاج،يعني منځنۍ لاره په کښې راوړل شوې. لکه چې د تقدير، کوم چې جبريه عقائد لرونکي په دې عقيده دي، په حقله وايي:

"له قسمته خلاصېدۀ د هيچا نۀ شته
که داخل شي د مکې په حرمونه
سړی کله په کوشش تر ځايه رسي
څو د خدای له لوريه نۀ وي کرمونه"(22)

بل ځای داسې وايي:

"زه په خپله په تا نۀ يم مئين شوی
ستا له لوريه په ما شوې ده ندا
زۀ په تا باندې مئين يم له ازله
نۀ چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا"(23)

د قدر په حقله وايي:

که تور غر له ځايه خوځي وبه خوځي
ولې نور به مقدر نۀ شي هرګز"(24)
غم به هيچري و نۀ کا په دنيا کښې
که څۀ کيږي د رحمان په اختيار"(25)

**انداز و بيان** : انداز و بيان د شاعرۍ له اساسي غوښتونو څخه دی چې د شاعرۍ، په لوستونکو پېژندلو او د هغوی په زړونو د اثر کولو له پاره ډېر ارزښت لري. د حافظ او رحمان بابا د شاعرۍ بيان او انداز بېل بېل دی. د حافظ د شاعرۍ انداز رندانه، مستانه، جوشيلا، بې باکه او جذباتي دی لکه

مولانا شبلي نعماني ليکي: ترجمه: "د حافظ په شاعرۍ کښې چې کوم جذبات دي، هغه په خپله د دهٔ واردات او حالات دي.... له دې سوبه يې په دومره جوش تر خولهٔ ايستلي چې پر اورېدلو والا داسې اثر کوي کوم چې د خواجه صاحب په زړهٔ کښې دی"(26).

دوست محمد خان کامل مومند ليکي: "خواجه حافظ په ډېري سوزناکې طريقې او جذبه کښې وايي، چې هر څو که عاشق غواړي چې د عشق راز، د زړهٔ درد او سوی، جوش او ولوله څرګنده کړي او په دا رنګ د خپلو جذباتو تسکين وکړي، خو مينه او شوق، ځله او خواهش څهٔ خو دومره نهٔ دي چې د قلم ژبه يې بيان شي.حافظ وايي:

قلم را آن زبان نبود که سِرِ عشق گويد باز
ورائی حدِ تقرير است شَرح آرزومندی"(27)

لنډه دا چې حافظ په شعر کښې د زور راوستلو له پاره که څهٔ هم لوړ تشبيهات او استعارات کارولي، خو په داسې علامتي انداز کښې خپل پيغام وړاندې کړی چې له شعر څخه د دهٔ کوم مقصد دی هغه په ګرانه تر راايستل کيږي او زياتره اشعار يې مجازي رنګ خپلوي چې په ټولنيز اصلاحي عمل کښې د رحمان بابا په پرتله تر کمې اندازې خپل مرام تر لاسه کوي.

د اوسني پير په شعري غوښتنو کښې يوه غوښتنه داهم ده چې شاعري يوازې د جذبې نوم نهٔ دی بلکې له دې سره سره په شعور او تخيل کښې اعتدال په کار دی، دې ته په شاعري کښې د جذبې د تهذيب شعور هم وئيل کيږي. کله چې شاعر بايد د شعري جذبې سره له شعور څخه هم کار واخلي نو يې په شعر کښې له پراختيا او ژورتيا سره سره هم اهنګي هم راځي. خو د حافظ په شاعرۍ کښې جذبه غالبه ده.

د رحمان بابا د کلام انداز بيان د خواجه حافظ په پرتله ترحدزيات جوش او جذبه نه لري. خو جوش او جذبه يې دومره کم هم نهٔ دي چې د شعر خوند له مينځه يوسي او تاثير يې ختم شي.پروفېسر داور خان داود ليکي چې "د رحمان بابا شاعرۍ د جذباتو شاعري ده چې غنائي عنصر په کښې جوت دی. او پر مخ ليکي چې د بابا په شعر کښې کوم خوند، مزه، سوز، درد، اثر، خلوص، صداقت، حقيقت، جوش، جذبه، زور، سادګي، رواني، رنګيني، اختصار، جامعيت او برجستګي ده. هغه په لنډو، ساده او اسانو الفاظو کښې څرګندول څهٔ اسانه کار نهٔ دی"(28).

د رحمان بابا په کلام کښې جوش او جذبه خوشته ليکن ډېر په وقار، متانت او دروند والی راوړل شوې ده.د رحمان بابا کمال دا د ی چې کلمات په دومره ښائسته انداز د شعر په ژبه وړاندې کوي چې لوستونکي ورته حيران پاته شي.

**عشق**: د رحمان بابا او حافظ شیرازي په شاعري کښې د تصوف په حقله ډېرمباحث شته. زیات څېړونکي په دې عقیده دي چې رحمان بابا او حافظ شیرازي دواړو شاعرۍ عمارت پر تصوف ولاړ دی.

لکه بره اشاره ورته شوې چې د رحمان بابا تصوفي افکار تر ډېرې اندازې په ساده او عام فهمه انداز کښې وړاندې کړي او فلسفیانه یا علامتي انداز څخه یې تر ډېرې اندازې ډډه کړې، کوم چې د تصوف لار د انسانانو دپاره ګرانه کړې او ډېر خلق له هم دې سوبه له تصوف څخه لاس پر سر شوي. د تصوف ناقدین پر تصوف یوه نیوکه دا کوي چې تصوف یوه ګنجلك، فلسفیانه، اوږده لار ده چې سالك نهٔ پوهیږي چې پر کومه لار روان دی؟ او دغه ډول نورې نیوکې باندې کیږي. د دې لامل شاید داوي چې تصوف وړاندې کوونکي لارښودان او په ځانګړي توګه هغه شاعران چې تصوفي نظر لري، دې ته فلسفیانه یا علامتي بڼه ورکولو سره، د تصوف حلقه د پراخولو پر ځای محدوده کړي، او زیاتره د تصوف او روحانیت یا نړیوال روحانیت ګډولو سره په تصوف کښې ځنې مشرکانه نظریاتو خورونه و کړي. په داسې کولو سره ډېر خلق د تصوف له نېکې لارې څخه محرومه پاته شي. په لنډو ټکوکښې به ووایم چې په ساده او اسانه الفاظو کښې تصوفي افکار خورول تر دې ګران کار دی چې په فلسفیانه انداز کښې وړاندې کړل شي. دلته رحمان بابا خپل پیغام تر اولس پورې رسولو کښې بنهٔ بریالی شوی.

د حافظ په شاعري کښې د تصوف په حقله ډېرې نیوکې شوې. ځنې څېړونکي حافظ ازاد خیال، مست او شوخ شاعر ګڼي، شاعري یې پر مجازي مینه بنا ګڼي. دا نیوکه د غربي نړۍ د ځینو ختیځ پوهانو له خوا را مینځ ته شوې. زما په خیال د حافظ فلسفیانه  او علامتي انداز دا نیوکو ته لار پرانستلې. خو زمونږ مطلب له دې سره نهٔ دی چې حافظ د حقیقت او که د مجاز شاعر دی؟ بلکه د دهٔ فن د زړهٔ له کومې ستایو، بې له څهٔ شکه د شاعرۍ دغه برخه یې خصوصاً زوروره ده.

دا پرېکړه پر لوستونکو پرېږدو چې د رحمان بابا باوقار، سنجیده او دروند انداز باندې د حافظ پر شوخیانه، رندانه او د میو له ذکره ډکه شاعري تهٔ ترجیح ورکوي او که نهٔ؟

عشق د حافظ او رحمان بابا د شاعرۍ تر ټولو اساسي موضوع ده. که داسې ووایم چې د دوی شاعري ودانۍ پر عشق اډانه لري.حمزه بابا یو ځای د رحمان بابا د شاعرۍ په حقله وئیلي چې د رحمان بابا له شاعرۍ که تصوف لرې کړل شي، د دهٔ د شاعرۍ زکات به نهٔ شي پاته. د دهٔ په متابعت کښې به زهٔ ووایم چې د شیرازي له شاعرۍ که د عشق موضوع لرې کړل شي، نوره شاعري به یې زکات پاته نهٔ شي. ولې چې د حافظ د شاعرۍ لویه برخه عشقیه ده، د مجازي او حقیقي عشق دواړو نمونې په کښې دي.

د رحمان بابا او حافظ د عشق په حقله ځنې موضوعات خو سره ورته بلکې یو د بل پر تو معلومیږي خو بیاهم توپیر په کښې په نظر راځي. د حافظ شیرازي عشقیه شاعري د شراب و کباب،

میخانه، رندي و مستي، ساقی، جام او باده، چنګ و ترانه، سرور و مستي، او داسې نورو موضوعاتو باندې اډانه لري. د دې برعکس د رحمان بابا عشقيه شاعري د حافظ د شاعرۍ په پرتله پيکتوب لري، خو د دې سوب د اولس مجموعي رحجان، شرعي دائره کار، او اخلاقي حدود په نظر کښې ساتل، د مجاز څخه تر زياتې اندازې ډډه کول دي چې له سوبه يې په پښتني ټولنه کښې دۀ ته تر ټولو زيات خوښ کړل شوي شاعر شمله پر ور سرې کړې او په ټوله نړۍ يې پېژندلی.

که دوزخ لره د يار په مينه درومي
دوزخ هم ورته جلوه کا د جنت"(29)

د رحمان بابا عشقيه شاعري د تصوف د مقاماتو په ډول خپل ادوار لري، چې په لومړي سر کښې د انسانيت سره مينه، ټولو انسانانو ته په ښۀ نظر کتل او له بې ځايه تعصب او قام پرستۍ څخه کرکه کول دي. لکه رحمان بابا چې وايي:

زۀ عاشق يم سروکار مې دی له عشقه
نۀ خليل نۀ داودزی يم نۀ مهمند"(30)
دغه واړه کرامات د عاشقۍ دي
چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد "(31)
که چا لار د عاشقۍ وي ورکه کړې
زۀ رحمان د ګمراهانو رهنما يم"(32)

د حافظ د عشقيه شاعرۍ انداز د رحمان بابا د عشقيه شاعرۍ له انداز څخه بيل دی. د حافظ عشقيه شاعری که په ظاهره له اسويليو ډکه ښکاري خو څېړونکي په دې عقيده دي چې حافظ غمګين مزاجه شاعر نۀ دی خو د رحمان بابا ديوان له غمه او درده ډك دی. د شعرالعجم ليکوال ليکي:

*"خواجہ صاحب کے عشقیہ جذبات غم اور درد سے کم تعلق رکھتے ہیں، وہ فطرتاً شگفتہ مزاج اور رنگین طبع تھے. اس لئے عشق و عاشقی سے ان کو وہیں تک تعلق ہے جہاں تک لطف طبع اور شگفتگی خاطر کے کام آئے. وہ نا امیدی، حسرت، یاس وغیرہ پر کچھ لکھتے ہیں تو محض تقلید ہوتی ہے، وہ غمگین منہ بنا بھی چاہتے ہیں تو چہرہ سے شگفتگی نہیں جاتی"(33).*

ژباړه: د خواجه صاحب عشقيه جذبه کښې غم او درد ډېر نۀ شته، هغه فطرتاً رنګين مزاجه دی. ځکه د دۀ او د عشق تعلق د لطف طبع په خاطر. د نااميدۍ، افسوس وغيره په حقله ليکنو کښې تقليدي انداز لري او که غمجن ځان جوړول غواړي خو پر مخ يې هغه اثرات نۀ وي.

**روزمره، متل او محاوره**: روزمره، متل او محاوره کلاسيك شاعرانو په خپلو کلامونو کښې ډېر کارولي دي. دا د ټولنې يو مجموعي زيار دی چې جوړونکي يې نامعلوم وي خو د متعلقه ټولنيز ژوند عکاسي کوي چې په کښې ډېر تنقيدي بڼه لري. حافظ شيرازي او رحمان بابا په خپلو اشعارو کښې ډېر داسې متلونه او محاورې کارولي چې د خپلو ټولنو نمائندګي کوي. د يو نيم ځای يو رنګه والي پرته چې ځنې محاورې، روزمره يا متلونه سره يو ډول وي، خو داشمېر لږ دی، زياتره متلونه د ټولنو له خوا د دوی د کلچر، دود، دستور، تاريخ او خپلو رويو عکاسي کوي.

پر دې اساس مونږ وئيلی شو چې د حافظ شيرازي او رحمان بابا په شاعري کښې چې کوم متلونه، محاورې يا روزمره کارول شوې ده، هغه د دوی د خپلو ټولنو نمائندګی کوي، يعني لوی شمېر هغه متلونه، محاورې يا روزمره چې د رحمان بابا په شاعرۍ کښې راوړل شوي دي، د حافظ شيرازي په شاعري کښې کارول شوو متلونو، محاورو او روزمره سره روڼ توپير لري. ولې يو شاعر د پښتو ژبې او بل د فارسي ژبې متلونه، محاورې او روزمرې کارولي دي.

**خمريات**: خمريات د حافظ دشاعرۍ تر ټولو لويه موضوع ده چې ځای په ځای يې علامتي انداز کښې او ځينی اشعار يې د خمرياتو بشپړه نمونې دي يعني په حقيقي معنی کښې راوړل شوي. خصوصاً هغه اشعار چې په هغو کښې نومونه راوړل شوي دي. لکه د حافظ د "خ" په رديف کښې يو غزل دی. تاثر داسې ورکوي چې لکه د خواجه معشوق چې وي. ميرولی الله ليکي:

*"خواجہ صاحب کے دیوان میں ایک غزل ردیف خ میں ہے اور اس ردیف میں صرف یہی ایک غزل ہے. اس غزل میں لفظ فرخ ردیف ہے اور غزل میں کل نو شعر ہیں. غزل کے مطالعہ سے معلوم ہوتا ہے کہ لفظ فرخ بطور اسم استعمال ہوا ہے. اس بناپر حاشیہ نویسوں نے لکھا ہے کہ فرخ نام معشوق خواجہ است کہ گوشہ خاطر حافظ بظاہر متعلق باو بود. تذکروں سے اس نام پر بھی کوئی واقعاتی روشنی نہیں پڑتی اور یہ معلوم نہیں ہوسکا کہ یہ فرخ کون تھا ممدوح تھا یا معشوق"*(34).

ژباړه: د خواجه صاحب په ديوان کښې په رديف خ کښې يو غزل دی او په دغه رديف کښې بس هم دغه ايکې يو غزل دی. په دې غزل کښې لفظ فرخ رديف دی او په غزل کښې ټول نهه شعرونه دي. د غزلي له مطالعې څخه ښکاري چې د فرخ توری د نامه په معنیٰ کښې راوړل شوی دی. له دې سوبه حائشه نويسانو ليکلي دي چې فرخ د دۀ معشوق ؤ. ليکن دا درك په تذکرو کښې نۀ دی موندل شوی چې ايا فرخ يې معشوق که مدح کوونکی ؤ؟

لومړی شعر يې دی:

بده ساقی شراب ارغوانی
بیاد نرگس جادوے فرخ"(35)

د رحمان باباپه شاعرۍ کښې خمریات د نیشت برابر دي. بلکې ځنې ځایونه یې په ډاګه دا خبره کړې اوقصداً یې د خمریاتو له منظر کشۍ څخه کار نۀ دی اخیستی. په شعوري توګه یې هڅه کړې چې له خمریاتو ځان وساتي. وایي:

می د خپلو لبو را، نۀ د انګورو
چې اول یې نوشیدن وي پسې قی"(36)

نۀ یې عشق او خمریات سره ګډ کړي. که څۀ هم دا یو له بل سره تړلي دي لکه حافظ چې په خپله شاعرۍ کښې د زور راوستلو له پاره کارولي، خو رحمان بابا خمریات د شاعرۍ له اساسي موضوګانو، یوه موضوع نه ګرځول، د حافظ له شاعرۍ سره ښکاره توپیر دی، او مونږ ته د رحمان بابا د بېل اسلوب زېرې راکوي.

**د حافظ د دیوان لومړۍ مصرعه**: یزید د اسلامي تاریخ هغه نفرت انګېزه کردار دی چې د ټولي اسلامي نړۍ بد ځنې کیږي، خو نۀ شم وئیلی چې حافظ شیرازی په کومه وجه د یزید د شعر یوه مصرعه خوښه کړې او په خپله شاعرۍ کښې ځای ورکړی. تر دې لا نور د تعجب خبره دا چې د یزید و دې مصرعې ته یې په دیوان کښې تر ټولو لومړۍ شعر ټاکلی او بیا یې په لومړي شعرکښې لومړۍ مصرعه د یزید ده! که څۀ هم د دې په حقله د حافظ تاویلات شته خو زۀ یوه زره هم نۀ یم ځنې مطمئین شوی. نۀ هغه مصرعه دومره اعلیٰ فکر وړاندې کوي چې سړی وایي د معجز کلام و مقام ته نژدې ده. د یزید بشپړه شعر داسې دی:

"انا المسموم ما عندی بتریاق و لاراق
ادرکاسا ونا ولها الا یاایها الساقی"(37)

حافظ شیرازي داسې په خپل شعر کښې ځای کړې ده:

الا یاایها الساقی ادر کا سا و نا ولها
که عشق آسان نمود اول ولی افتاد مشکلها"(38)

ترجمه: اې ساقي، جام راوڅرخوه او شراب راکړه، پام کوه! عشق په پیل کښې ډېر اسانه ښکاره کېدلی خو اوس یې له ډېرو لانجو سره مخامخ کړی یم.

په دې حقله حافظ شیرازي یو روایت دا هم مات کړی چې د دیوان په پیل کښې د مسلمانانو شاعرانو له خوا چې کوم حمد ، نعت یا منقبت ورکول کیدی، هغه د دهٔ په شاعرۍ یا دیوان کښې په نظر نهٔ راځي.

تر څو چې د رحمان بابا د فکر خبره ده، رحمان بابا ډېر عالي، روڼ او انسان دوست او موحدانه فکر لري. د شان مصطفی او اهل مصطفی د زړهٔ له تله منونکی دی.د حافظ شیرازي برعکس يې د دیوان په پیل کښې حمد او نعت دا راوړي چې د حافظ له شوخ او روایت شکن انداز سره يې ښکاره توپیر په ګوته کوي.

**پائیله**: په دې کښې شك نهٔ شته چې فارسي ژبه د ادب له پلوه ډېره غني ژبه ده. رودکي، فردوسي، انوري،نظامي، رومي، سعدي او حافظ غوندې نوموتي شاعرانو فارسي ژبه د نړیوالو ژبو په قطار کښې درولې. خو دا هم حقیقت دی چې تر فارسي مخکښې د نورو ژبو شاعرانو او ادیبانو هغه وخت هم ډېر اوچت او معیاري ادب تخلیق کړئ ؤ، کله چې فارسي په دې میدان کښې معیار ته نهٔ ؤ رسېدلې. په ځانګړې توګه عربي داسې ژبه وه چې د اسلام تر خپرېدو درې سوه کاله مخکښې د نړۍ منل شوی ادبي معیار يې لرلو،او بیا د قرآن کریم رنګه معجز کلام الله پاك په عربي کښې نازل کړی، ځکه يې له نړیوال ارزښت څخه انکار نهٔ شي کېدلی.

د عربي اثرات د مسلمانانو له خوا تخلیق کړل شویو ادبیاتو کښې ژورې ولګې (جرړې) لري. دغه ډول که د فارسي ادبیات په مجموعي توګه وګورو یا د حافظ شاعرۍ وګورو، نو د عربي مضامین، تراکیب، ضرب الامثال، اقوال، یا د قرآن او حدیث نمونې راوړل، پر فارسي ژبه د عربي ژبې اثرات په ګوته کوي.

دغه ډول پر پښتو يې هم اثر کړی. د عربي ژبې اثرات د رحمان بابا په شاعري کښې هم په نظر راځي چې سوب يې د رحمان بابا عقیده، د عربي نصاب مطالعه، په روزمره ژوندکښې دیني احکام او داسې نور.

تر څو چې د رحمان بابا د شاعرۍ د فکري سرچینې خبره، زما په خیال که د دهٔ شاعري په څو برخو کښې ووېشل شي نو به خبره صفا شي. لکه اسلامي عقائد او د د دیني احکامو په حقله شاعري، دوئم اصلاحي شاعري. دریم صوفیانه او مجازي شاعري.

اوس که لږ ورته ځیر شو، لومړۍ دوې برخې داسې دي چې فکري سرچینه يې د قرآن او حدیث پرته هیڅ نهٔ شي کېدلی او د اسلامي نړۍ د ټولو شاعرانو په شاعرۍ کښې تر شلمې پېړۍ پورې زیات اثرات تر سترګو کیږي. صوفیانه شاعري کښې هم لویه برخه د اسلامي فکر څخه رڼا اخیستې. د ټولنیزې اصلاح عمل، اخلاق، او عشق د صوفیانه شاعرۍ داسې موضوګانې دي چې هر شاعر يې

په خپل خپل انداز کښې ليکي. پر شعر لاس بري شاعرانو په ځانګړي انداز وړاندې کړي،خو بيا هم اثرات يې له لغاتو، تراکيب، افکارو، او فن څخه معلوميږي خو داثراتو کرېډټ خپل اوريجن ته ځي.

لکه څنګه چې حافظ د خواجو ذکر په خپل کلام کښې د استاد په ډول کړی،خو خواجو دومره مقبوليت نۀ دی موندلی کوم چې حافظ ته ورپه برخه شوی. دغه ډول رحمان بابا چې کوم مقبوليت موندلی، که څۀ هم په ټول کلام کښې د حافظ ذکر نۀ دی کړی، بيا هم د حافظ فکري اثرات ځای ځای د دۀ پر شاعرۍ څرګند دي. حتیٰ چې په ځينو اشعارو کښې توارد تر حده يو رنګه والی په نظر راځي، کله کله ټوله مصرعه توارد وي، کله په تراکيبو يا افکارو کښې توارد په نظر راځي خو يوازې د دې څو تراکيبو يا مضامينو پر اساس د يو قداور شاعر په حقله دا رايه جوړول چې فلانی شاعر له فلاني شاعر څخه ډېر زيات متاثر دی، زما په خيال نا انصافي ده. ولې شاعر د قام او د ټولنې پر هر اړخ ژور نظر لري، نو په ټولنه کښې چې کومې نيمګړتياوې يا لانجې وي، شاعر هغه په خوږه ژبه رابرسېره کوي. چونکه د ځينو ټولنو ستونزې يو شان وي، په ځانګړې توګه پخوانۍ ټولنې خو بېخي له يو ډول ستونزو سره مخامخ پاته شوي، پر دې اساس مونږ وئيلی شو، که د هغه دور وتلو شاعرانو په افکارو، خيالاتو يا ليکنو کښې که يو رنګه والی وي، دا د دوی عالي افکارو ته اشاره ده، پر دويم پړاؤ توارد هم ورته وئيلی شو او په پای کښې تر ډېرې ټيټې اندازې اثر اخيستل هم امکان لري، خو د زراوو شعرونو په ديوان کښې د څو شعرونو قافيايي ورته والی، د رديف يا بحر يو رنګه والی مونږ ته دا اجازه نۀ راکوي چې دومره لويه دعوه وکړو چې يوشاعر د بل شاعر پيروکار وګڼو.لکه محترم پروفېسر جميل يوسف زي صاحب چې د رحمان بابا په حقله کړې ده. اثرات خو غير شعوري توګه باندې هم کيدلی شي خو پېروکاري وچ کلك شعوري عمل دی.

له دې پرته د دوی په ژبه، انداز او بيان کښې فرق شته. لکه څنګه چې په مقاله کښې پر دې په تفصيل خبره شوې. د دوی دواړو لويه موضوع عشق ده، خو انداز او ګفتار يې بېل بيل دی. حافظ خپله دا اقرار کوي چې عشق يوه داسې موضوع چې د هر چا له خولې واورېدل شي، هغه به بيل وي. دی وايي:

*يک قصه بيش نيست غم عشق و ايں عجب*
*از هر کسے که مي شنوم نا مکرّر ست*

*عشق کا غم ایک داستان سے زیادہ نہیں ہے لیکن عجیب ماجرا یہ ہے کہ اسے جس زبان سے بھی سنا جائے اور جہاں کہیں سے بھی سنا جائے یہ داستان نئی داستان معلوم ہوتی ہے"(39).*

ژباړه: د عشق غم له يو داستان څخه زيات نۀ دی ليکن دا عجيبه خبره ده چې په کومه ژبه کښې، له چا څخه واورې نوی معلوميږي.

د حافظ په دیوان کښې لس بیته یو غزل راوړل شوې چې قافیې یې جام، ایام، فام،نام،او داسې نورې دي. د پروفېسر جمیل یوسفزي په خیال یې د رحمان بابا ځنې اشعار را اخیستي او لیکي چې رحمان بابا تر دغه قافیه لاندې غزل لیکلې چې قافیې همدغه کارولي خو محقق دې خبرې ته خیال نۀ دی شوی چې له یوې نیمې قافیې راوړلو څخه ضروري نۀ ده چې شاعر دې د بل شاعر څخه رانقل کړې وي، ولې قافیه یو بندېز دی، چې ډېر څېړونکي یې ګرسره نۀ خوښوي خو بیاهم په شعر کښې غنایت او موسیقیت برقرار ساتلو دپاره کارول کیږي. بیاهم که محقق د دې غزل اثرات د حافظ څخه ګڼي. د حافظ او رحمان بابا دیوانونو ته دې یو وار بیا متوجه شي، د حافظ دغه غزل لس بیته لري او یوه بله لس بیته غزل تر دغه قافیه لاندې په ردیف"الف" کښې راوړل شوی دی، خو رحمان بابا تر دې قافیې لاندې درې غزلې پرله پسې لیکلي. لومړی غزل یې اووۀ بیته، دوئمه غزل یې شپږ بیته او دریمه غزل یې څوارلس بیته لیکلې او یوه بله نهه بیته غزل یې تر دغه قافیه لاندې د الف په ردیف کښې هم لیکلې ده. اوس دی انصاف لوستونکي وکړي چې رحمان بابا به یو څو قافیې ورسره ورته وي، خو دا نۀ شو وئیلی چې خامخا رحمان بابا دحافظ تر اثر لاندې دا غزل لیکلی، ولې چې رحمان بابا دوه چنده قافیې نورې هم راوړې چې د دۀ پر فصاحت روڼ دلیل دی.

لوړ بحث مونږ ته دا پائیله راکوي چې د رحمان بابا پر شاعري باندې د حافظ شیرازي د شاعری اثراتو څخه خو ډډه نۀ شي کېدلی،د رحمان بابا ډېر اشعار د حافظ د اشعارو سره په معنوي او فني توګه یو رنګه والی ضرور لري، خو پر دې اساس مونږ نۀ شو وئیلی چې رحمان بابا د حافظ شیرازي پېروکار دی. په دې حقله که دوه سوه شعره هم وړاندې کړل شي لاهم پېروکاري یې نۀ ثابتیږي، ولې دواړو شاعرانو په زرګونو اشعار وئیلي، په دې کښې که پنځوس یا سل اشعار فکري یا فني ورته والی ولري، خو ځنې اشعار توارد او تصادف هم کېدلی شي او ځنې اشعار عمومي موضوع کېدی شي. نو که څو شعره سره ورته وي، په زرګونو اشعار یې هیڅ یورنګه والی نۀ لري، پر دې اساس وئیلی شو چې د رحمان بابا او د حافظ شیرازي د تخیل پرواز بېل بېل دی که څۀ هم میدان یې یو دی.

***

# حوالې

(1) پروفیسر میاں مقبول احمد، شرح دیوان حافظ شیرازی، اسد نیئر پرنٹرز، لاہور، اشاعت ندارد، ص ۴۸۱
(2) خلیل، حنیف، د رحمان بابا کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵، مخ ۲۳
(3) ایضاً، مخ ۱۴۲
(4) ایضاً، مخ ۱۴۲
(5) ایضاً، مخ ۱۴۳
(6) ایضاً، مخ ۲۳۸
(7) ایضاً
(8) ایضاً
(9) ایضاً، مخ ۲۳۹
(10) ایضاً، ۲۳۹
(11) ایضاً، ۲۳۹
(12) نعمانی، علامہ شبلی، شعر العجم، حصہ دوم، آر-آر پرنٹرز، لاہور، الفیصل ناشران، ۲۰۱۴، ص ۲۰۴
(13) خلیل، حنیف، د رحمان بابا کلیات، مخ ۱۴۷
(14) ایضاً، مخ ۱۴۲
(15) ایضاً، مخ ۱۴۱
(16) میر ولی اللہ، لسان الغیب (اردو شرح دیوان حافظ)، طبع پنجم، مطبع ورڈ میٹ، اسلام آباد، دوست پبلی کیشنز اسلام آباد، ص ۳۳
(17) پروفیسر میاں مقبول احمد، شرح دیوان حافظ شیرازی، ص ۵۲۶،۵۲۷
(18) ایضاً، ص ۵۲۶، ۵۲۷
(19) ایضاً، ص ۶۰، ۶۱
(20) ایضاً، ص ۶۱، ۶۲
(21) ایضاً، ص ۶۹، ۷۰
(22) خلیل، حنیف، د رحمان بابا کلیات، مخ ۳۱۰
(23) ایضاً، مخ ۵۵
(24) ایضاً، مخ ۱۶۴
(25) ایضاً، مخ ۱۵۲

(26) نعمانی، علامہ شبلی، شعر العجم، حصہ دوم، آر- آر پرنٹرز، لاہور، الفیصل ناشران، ۲۰۱۴، ص ۲۲۰

(27) مومند، دوست محمد خان کامل، رحمان بابا، ترتیب او تدوین، محمد زبیر حسرت، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۶. مخ ۱۳۶، ۱۳۷

(28) داود، داورخان، پروفیسر، د رحمٰن بابا ژوند تعلیمات او شاعري، جدون پرنټنګ پریس، پېښور، ستمبر ۱۹۹۷، مخ ۸۰-۸۱

(29) خلیل، حنیف، د رحمان بابا کلیات، مخ ۱۱۷

(30) ایضاً، مخ ۱۳۱

(31) ایضاً، مخ ۱۲۹

(32) ایضاً، مخ ۲۱۶

(33) نعمانی، علامہ شبلی، شعر العجم، حصہ دوم، ص ۲۳۵

(34) میر ولی اللہ، لسان الغیب، ص ۴۴

(35) پروفیسر میاں مقبول احمد، شرح دیوان حافظ شیرازی، ص ۲۸۷

(36) خلیل، حنیف، د رحمان بابا کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵، مخ

(37) http://www.man-to-oo.blogfa.com/post-49.aspx

(38) پروفیسر میاں مقبول احمد، شرح دیوان حافظ شیرازی، ص ۵۳

(39) ایضاً، ص ۱۴۶